مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۲/۰۸/۲۰

# څو لنډۍ د سندرو مینه وال او سندر غاړو له پاره

خدای خبر بیا به دیدن وشي
چې د غر بت ژوند مې مرګي په کام کې ورینه

اوبو دي خوند راته بل ښکاري
مګر دریابه ، د وطن څخه راځنه

د بد نصیب قسمت خواري وي
چې په تنګی صورت جلا شي له وطنه

خلکو تابوت مې یوار کیږدئ
مسیحا دم بوی د وطن روح راکوینه

خپل ګران وطن ته په سفر یم
د لارې ګرد مې څکه روح تازه کوینه

خدای د هغو یارانو مل شي
چې په فراق کې د وطن شپې تیروینه

له مسافر ماما نه جار شم
چې په جامو یې د وطن ناست دي ګردونه

دیدار به بیا په قسمت نشي
چې په پردي وطن کی ګرځم بی وطنه

نکی وجود مې تول سکاره شو
چې په عمرونو مې هجران لمبې سیځینه

مخ دې راواړوه شمال ته
چې سحر باد دې تور پیکی وریوینه

اګرکه د لنډیو ویونکي معلوم نه وي او اکثره د ویونکو په نومونو به ثبت هم نه وي ، خو تر کومه ځایه چې دا څو لنډۍ زه لرم ، او د یادښتونوپه پاڼو کې راسره وو ، نو د دي نه د مخه چې د زماني د زیرمتون څخه په بشپړه توګه ورک شي ، څکه یو لړ لنډۍ رانه ورکي شوي هم دي ،او هغه د تنظیمی جنګونو او جګړو څخه پر له پسي ، یو ځای نه بل ځای ته کډه کولو له وجهی ورک شول ، خوښیله لرم چې د موسیقی د مینه والو د پاره به دا څو لنډۍ په زړه پوری وي،او د بله خوا به خوندی پاتي شي ،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ